وطندار Vatandar
سیاسی فرهنگی ادبی فلسفی

انجنیر عبدالقادر مسعود

# شهيد سيلاب( ساپي ) د لوړتفکراوسپيڅلي احساس شاعر او ليکوال

زموږ په ټولنه کې مدبره او علمي شخصيتونو، ليکوالانو، شاعرانو، او هنري استعدادونو پښتوژبې ، خپلې ټولني اوخلکو ته د خپلې پوهې او طبيعي استعداد پر بنسټ او د قلم له لارې ډير درانه خدمتونه کړي دي، چې د دوی کار نامې د قدر او ستاينې وړ دي.

شعر ويل د پښتو په ژبه کې د پيريو پيريوراهيسي د هغودودونو اوعنعنو څخه دی چې زموږشاعرانواو ليکوالانو د خپل قلم او ژبې په مټ د ادبياتو په تاريخ کې په ډيرو حساسوشيبو



کې خپلې ژبې ته او د کلتور او منل شوي دود او دستور د پياوړتيا په لاره کې داسې ځانګړي کارونه کړي دي، چې هيريدل يې نا ممکنه خبره ده دشعر او شاعري لاره اوږده او ستونزمنه ده، ډيرې ستړياوې، پړاوونه او منزلونه لري شعر د نورو هنرونو تر ځنګ هغه هنر دی، چې شاعران خپله مينه، خپل فکر، خپل خيال،خپل احساس، خپله عاطفه، خپل انساني او ملي پيغام د شعر په ژبه کې خپلو خلکو او خپلې ټولنې ته وړاندې کوي شاعران د ټولنو انځوران دي، چې دوی په خپلو شعري تصويرونو کې د بشري ټولنې حالات او پيښي او د خلکو د ويښولو او پوهولو مختلف اړخونه بيانوي، او د واقعي اوانساني ژوند لارې، چارې ور په ګوته کوي اروابناد امان الله(ساپی) چې زموږ د هيواد با استعداده، پياوړې، ساده او سپيڅلي اونامتوشاعرو د ده نوم د ادبياتو په تاريخ کې د يو ممتاز او با احساسه شاعر په توګه روښانه او ځليدونکی دی.دی د يو عالي ادبي، ملي او علمي شخصيت څښتن و، او دشعر او شاعري بيرغ يې اوچت ساتلې وسيلاب صيب دشعر او شاعري سره يوه ځانګړې مينه او علاقه درلوده او د ده د ژوند دايمي مصروفيت و. دی يو ستر اولسي شاعر و. د ده شعري کلام يوه خوږه ژبه لري، د ده خبرې دزړه خبرې دي. د ده په کلام کې دوستي، عشق اومحبت، مينه او خلوص، وفا او صميميت، رښتيا او صداقت، ايمان اوعقيده، جذابيت او ښايست، دروندوالي او وقار پروت دی. د ده په شعرونو کې سوزاودرد پروت دی، دی د يو ژور اغيز او دروند تاثير خاوند دی دا وتلي شاعر د خدای بخښلي وکيل صيب شهيد نصرالله خان

ساپي زوی او د مرحوم مفتي عبدالغفورخان لمسي دی دی په (۱۳۱۲) هجري شمسي کال کې د ننګرهارولايت د کامي ولسوالي په (غازي کلي)کې‌زيږدلي دی لومړنی زده کړې يې د کامي د اخوند کلي په ښوونځي کې په (۱۳۲۵) لمريزکال کې په بري سر ته رسولي دي. بيا وروسته ده شپږ کاله په خصوصي توګه د علمي او ادبي آثارو په لوستلو ځان مشغول کړی و. ده په دغو کلونو کې ډيرکتابونه مطالعه کړې دي. که چيرې د ده شعرونه او نثرونه وڅيړل شي نو دا ښکاري چې دی د مروجو علومو لکه د فقهي اصول، تفسير، حديث، صرف، نحو، بديع، بيان،عروض، قافيه، منطق، حکمت او داسی نوروعلوموسره بلد و، او خپل بنستيز مالومات يې په دې هکله تکميل کړي وهغه سرشاره استعداد چې خدای پاک ده ته ورپه نصيب کړې و، دی په (۱۳۳۱) هجري شمسي کالکې د کابل د قاضيانو مدرسی په دوهم ټولګي کې شامل شو، او بيا له دريم ټولګي نه د کابل عربي دارالعلوم نهم ټولګي ته ولاړ، او هلته يې خپله زده کړه په عالي کچه پای ته ورسوله. ده وروسته له زده کړې د هيواد په دولتي ادارو کې په کار پيل وکړدی د عدلي په وزارت، د ترانسپورت په رياست، دقبايلومستقل رياست او په راديوافغانستان کې په دندې بوخت ود سيلاب صيب خواږه شعرونه د ده د سپيڅلي زړه غږ دی. ده په شاعري کې يو ځپاند اوسرشاره استعداد درلود، خو د ده خدايي استعداد په هغو کلونو کې چې په راديوافغانستان کې يې کار کاوه نور هم ځيي ووهلې، او د زياتي پوهي خاوند شو، اود وطن په فرهنګي حلقوکې يو وتلي او نامتو شاعر په حيث وپيژندل شو. د ده کار په راديوافغانستان کې ده ته دا چانسور په برخه کړ، چې دی د لويو ادبي او فرهنګي شخصيتونوسره معرفي شي. ده په راديوکې‌په ادبي پروګرامونوکي برخه اخيسته، اود ده خوږې ترانې د يو شميرنامتواوتکړه هنرمندانواو سندرغاړو په خوږو آوازونو کي خپريدلې. په راديو افغانستان کې د ده کار د هغه د ادبي او فرهنګي ځيرې د پيژندګلوې او شهرت لپاره نه يوازی په کابل کې بلکې د هيواد په نوروسيموکې او په بهرنيو ادبي او فرهنګي ټولنو کې زياته مرسته وکړه.سيلاب صيب خپل شعرونه زياتره د موسيقي په طرزونو کې ويل او جوړول، او ده د هر چا په ذوق او علاقه او د هنرمندانو په غږ برابر شعرونه ليکلي دي، همدا وجه ده چې زموږ زياتره هنرمندانودخپل په زړه پوري اوښکلي آوازونوپه وسيله وخت په وخت دسيلاب صيب شعرونه ، سندرې او ترانې د ساز په ځپو کې خپلو مينه والوته په ډيرو ښکلو کمپوزونو اوطرزونو کې رسول. تر هغه ځايه پورې چې ښکاري ده زموږ هنرمندانو او سندرغاړو د سيلاب صيب د پنځو سوو(۵۰۰) په شاووخوا کي شعرونه په خپلو غږونو کې ثبت او خپاره کړي دي ښاغلي( نصرالله حافظ ) چې د سيلاب صيب ډيرنږدې ملګرې او دوست و، او زموږ دهيواد يو خوږ ژبي او نامتواديب او شاعر دی په خپله يوه ليکنه کې داسې وايي (د سيلاب صيب بعضی شعرونه نړيوال شهرت تر لاسه کړې دی، د مثال په توګهستا دسترګو بلا واخلم بيا د سترګې ولي

سرېِ دي پام  چې وار دې خطا نشي ما  منلې غرغرې  دي داشعرد لومړي ځل لپاره څما په مخ کې د کابل راديوپه پخوانۍ استديوکې چې په باغ عمومي کې وه د هيواد نامتو  هنرمند اومنلې شوې اوپيژندلې شوې سندرغاړي استاد اولمير په خواږه آواز کې ثبت شو چې رباب ورسره استاد محمد عمرد رباب نوميالي غږاوه. کله چې دا غزل د  راديو په  څپو کې  خپور شو ، نو په  آوريدونکو کې  يې  يو عجيبه  زوږ  شور او  مستي راوپاروله.) په رښتيا سره هم چې دا سندره داستاد اولميرلکه د ده دنوروسندرو په شان په ډيرښکلي طرزاو ښايسته کمپوز کې جوړه شوې ده، او په کوم سوز او ګداز کې  چې  دا سندره استاد اولميرويلې ده نو زه فکر کوم چې نور  هنرمندان يې په دا ډول ونشي ويلې استاد اولمير واقعا خپلې سندرې په ډير  عالي طرزونو او ښکلي غږکې ويلي دي، ده دسيلاب صيب نورشعرونه هم د موسيقۍ په پردو کې غږولي دي. د بيلګې په توګه دسيلاب صيب دا
شعرونه:

سوز دميني مي قلم را پاروي
ولولې مي دم په دم را پاروي

چيرته ته واى هلته زه واى
د  زړه سره  ماته  ګرانه

نن بيا زړه سوز د مينې پارولې غوندې دي
قلم يې په سرو سترګو ژړولې غوندې دي

دسيند په غاړه--- شوه را په غاړه
په ناز يې وويې--- بس دې مه ژاړه

ګوګل کې د مينې

دچا په څنو په په اوربل خوښنه ده
زما شرينه په محل خوښنه ده

بيا چي په ګوګل کي په ژړا

اوداسی نور شعرونه او سندری.

سيلاب صيب يو خوږ ژبي او با احساسه شاعر و. د ده شعرونه او سندري او خواږي ترانيچي د هنري ارزښتونوخيال يې هم ساتلي دی د هيواد د تکره هنرمندانو او سندرغاړوله خوا د راديو افغانستان په څپو کي او د هيوادوالو په ودوونو اوښاديو او محفلونو کي په ډير عالي کچه خپاره او خپريږي. ميرمن پروين لومړني ښځه وه چي په راديو کي يې سندرې ووېلي. دا هنرمنده يو په زړه پوري او خوږ آواز لري، دې هم د سيلاب صيب شعرونه په ډير ښکلي طرز او کمپوز کيږويلي دي. هغه د سيلاب صيب شعرونه چي دې ويلي دي دا دي

شمع که سوزيږي رڼا هم لري---- ګوره په خندا کي ژړا هم لري

يومې ناز بل جفا څوروي---- رنګ په رنګ مي آشنا څوروي

سوز دمينې مي قلم راپاروي---- ولولې مې دم په دم راپاروي

استاد ډاکتر صادق فطرت ناشناس چي د موسيقي په ډګر کي يو نامتو، ځلانده او روښانه ستوری دی او په پښتو، دري- فارسي او اردو ژبه ډير ښکلي آهنګونه او سندرې لري، ده هم په خپل خوږ او ښکلي غږکي د سيلاب صيب شعرونه په ډير ښکلي طرزونو کي ويلي دي، چي د دغو سندرو شعري بيلګه دا ده :

ستا د بنګړو شرنګ دی

او بله سندره يي چي د ميرمن ژيلا سره يو ځای ويلي ده دا ده

راشه خوا له غلي ---- ای نازولي
ما منلي ستا نازونه ---- زما بلبلي

زه هم ستا په مينه ---- ای نازنينه

تيروم مياشتي کلونه--- زما **لاليه**

ميرمن رخشانه چي د افغانستان د موسيقي يو تکړه او پخواني سندرغاړې ده، دې هم په خپل ښايسته غږ ي
د سيلاب صيب شعرونه په ډير عالي کچه ويلي دي، چي د دغو شعروونو يوه
بيلګه دا ده

جان لاليه ! لاليه څو به مرور ګرځې زمانه
يوځلي راشه
بيا په خندا شه
په مينه مينه را ته وګوره مينه

دې د استاد اولمير سره د سيلاب صيب يو شعرهم يو ځای ويلي دی چي هغه شعر دا دی:

د سترګو جنګ دی---- زړونه درزيږي
بانه غشي وارونه ---- دسترګو جنګ دی
د ميني ننګ دی ---- يار روانيږي
سر زما په په مينه ژدينه ---- د ميني ننګ دی

مير من ژيلا چي زموږ د هيواد د موسيقي په ډګر کي يوه پخواني نامتو اومشهوره څيره وه دې هم په خپل
ښکلي آواز کی د سيلاب صيب شعرونه  په خوند سره ويلي دي، چي  د دغوشعرونو بيلګه دا ده:

نن چي په جهان کي هسکه غاړه سر اوچت لرو
مونږ جمهوريت لرو
زړه د ايشيا کي لرغوني شان و شوکت لرو
مونږ جمهوريت لرو

زیری راغي چې ګلشن لره ماليار راځي

نن مې يار راځي ، نن مې يا ر راځي

دا ريبار چې ساه نيولې په تلوار راځي

نن مې يار راځي ، نن مې يار راځي

ښاغلي استاد حفيظ اله خيال چې زموږ د هيواد د موسيقي تاريخ، په ده باندې وياړي دی له هغو تکړه او نامتو استادانو څخه دی ، چې د ده نوم د موسيقي په ډګر کې نه ورکيدونکي او نه هيريدونکي دی. دی يو ښکلې سندرغاړې ، موسيقي پوه او کمپوز جوړوونکي دی،چې د ده له پوهی نه زياتره هنرمندانو ګټه اخيستی ده. دی په خپل وخت کې په راديو افغانستان کې د موسيقي لوی مدير و. ده هم د سيلاب صيب شعرونه د ميرمن ژيلا سره يوځای په خپل ښکلې او خواږه آواز کې ويلي دي، چې دهغوسندرود شعرونوبياګي دا ده:

زما د ګلي لښتي ---- مغرورې په زړه سختي

يو سوال درته کومه

لاليه ليونيه ---- سر توره صحرانيه

زه ستا په غم کې يمه

ميرمن قمرګله چې زموږ د هيواد يوه درنه، نامتو او د ښکلې اوخوا‌ږه آوازخاونده ده، دې هم د سيلاب صيب شعرونه ويلي دي، چې بيلګه يې دا ده:

دا بيا مې په ګوګل کې

استاد ايوب چې زموږ د هيواد يو پخوانی نامتواو ولسي هنرمند دی، ده هم دی سيلاب صيب شعرونه په خپل ښکلې او خواږه آواز کې ويلي دي، خود ده يوه سندره د موسيقي په ډګرکې ځلانده او تل پاتې ده چې د خلکو په منځ کې يو ځانګړې ځای او مقام لري او خلک يې ډيرزيات خوښوي هغه ښکلې سندره چې شعر يې هم دسيلاب صيب دی دا ده:

ليونې مينې کړم آشنا د بيابانه سره
پريدی چې ګرځم ليونی په غرونو

نا څاپه خواته شاه ليلا راغله
له نازه ډکه په خندا راغله

ځومره خوږه ستا دنيا دمينې

استاد شاه ولي چې يوپه زړه پورې آواز لري، او نن ورځ د پښتو د موسيقۍ په ډګر کې ډيرښکلې ځليدلې دی، ده هم د سيلاب صيب شعرونه ويلي دي، چې بيلګه يې دا ده
هغه د غلام د آقا خبرې.

استاد طلا محمد چې د راديوافغانستان پخواني هنرمنداو دخواږه آواز خاوند دی، او د پښتو موسيقۍ د ودې لپاره يې ډير خدمتونه کړي دي، ده هم د سيلاب صيب شعرونه ويلي دي،چې بيلګه يې دا ده

ستا مستو خماروسترګو په ما کړي اثر دی عالم په ما خبر دی

بيا باغی ارم ته ځي ---- مسته خاپيرې په ناز

او بريالي ولي چې زموږد هيواد يو تکړه، خوږژبې ځوان هنرمند دی، ده هم دسيلاب صيب شعرونه ويلي دي ، چې بيلګه يې دا ده

دسيند په غاړه شوه را په غاړه

لنډه دا چې د سيلاب صيب شعرونه چې په دغو اشعارو کې زياتره برخه د وطن ترانې،د موسيقۍ عرونه دي، ډيرو نورو هنرمندانو هم ويلي دي د بيلګې په توګه: ميرمن آزاده، استاد مهوش، ليلا، افسانه، ناهيد، پشتون قمر، نغمه او داسی نورو هنرمندانو،چې د دوی ثبت شوي آوازونه د راديوافغانستان د موسيقۍ په

ارشيف کې موجود دي په رښتيا، چې دموسيقۍ هنرد ډيرواولسي شاعرانوشعرونه ژوندي ساتلي دي.
دسيلاب صيب خواږه شعرونه او ښکلي ترانې او سندرې کله چې د موسيقۍ په پردو کې راشي نو ځانته يو ځانګړې خوند لري، او مينه وال يې خوښوي او ترينه لذت وړي. سيلاب صيب ته خدای پاک يوځپاند، ځلاند اوروښانه فکر،درک، احساس اوشاعرانه استعدادورپه برخه کړې و.د ده په شعرونوکې د ملي،اجتماعي،اخلاقي،عشقي،تصوفي اوتنقيدي اړخ نه رانيولې تر غزل پورې ډير پاک سپيڅلې ، ملي احساس پروت دی. دی د خپل وطن او د کړيدلي ولس د دردونو اوغمونو سره دردمن او غمجن و. ده د خپلی ژبې د ودی لپاره او د آزادۍ او خپلواکۍ په لاره کې او دخپل هيواد د پر مختګ لپاره ځان لکه پتنګ سوځلې و.دی په خپل يو شعر کې د وطن سره مينه اود آزادۍ او خپلواکۍ د ښکلي نعمت پيغام داسی بيانوي

ای ګرانه وطنه ته مې ګل ز دې بورا يمه
ستا په محبت کې تورې ډال ته په خندا يمه
ای ګرانه وطنه سر او مال به تا نه جار کړمه
مال به صدقه کړمه سر به تا ځنې نثار کړمه
ورک به کړم غماز له تا، دامان به دې ګلزار کړمه
تا به په ګانود آزادۍ هميش سينګار کړمه

او بيا په خپل يو شعر کې د آزادۍ درس او ديو خپلواک ژوند چغه داسی پورته کوي:
زه ستا د غيرې خوندورې شيبې
قسم دی کله هيرولی شمه
وطنه ستا دا دنګې هسکې څوکې
کله پردو ته پر يښودلی شمه
ستا په لمن کې د پردو حکمونه
وطنه زه کله زغملی شمه
که مې پرې مال عيال شي واړه تباه
پردي واکدار کله منلی شمه
---------------------------------------

سیلاب صیب د زړه له کومې په خپلو شعرونو کې د قوم اوهیواد د بیدارۍ، ترقي، پښتون اوپښتونوالی، آزادۍ او خپلواکۍ لوړ غږ او آواز پورته کړې دی، او په دی لاره کې دی د خپل مال او عیال څخه تیریږي. زه هیله مندیم چې له دی قومي، ولسي ، ملي اواجتماعي شعرونواو سندرونه زموږ اوسني او راتلونکي نسلونه د عبرت پند واخلي.د ده خواږه اوپه زړه پوري شعرونه ،ملي سندرې اووطني ترانې په لره اوبره پختونخواکې دتل لپاره ژوندي پاتی شوې دي.

سیلاب صیب د آزادۍ او خپلواکۍ ، شرافت او حیثیت او د یو خپلواکه ژوند عزت او د قلم فضیلت په ډیره میړانه او قرباني دخپل د ژوند تر پایه پورې وساته. ښاغلي نصرالله حافظ په حپله یوه لیکنه کې وایي، چې یوه ورځ سیلاب صیب ماته وویل:چې ما خپل قلم ته یو شعر لیکلی دی. ما ورته وویل، ژرشه د قلم شعر راته ولوله.سیلاب صیب چې ډیر شه دکلماتور و په خپل خوږغږ یې د قلم شعر ولوسته، چې د دغی شعر دوه بیته داسې دي:

قلمه! ښکل به دې کړم

نوم د جانان ولیکه

ولیکه مرور آشنا ته ، تول زیات و کم د آشنا

که زما لیکې ورته څیرې ګریوان ولیکه

د سیلاب صیب په شعرونو کې د ځوانانو بیدارول، پوهول، د هیواد سمسورتیا او پرختیا اود هوسا او آزاد ژوند هڅول نغښتی دي. دا د ده آرمان وه، چې ملي فکر او د آزادۍ مفکوره او د خاورې پت او عزت د خپلو وطنوالو په ذهنونوکې را وپاروي سیلاب صیب ادبي نثرونوته هم پاملرنه کړې ده. خواږه او سلیس نثرونه یې لیکلي دي.لنډی کیسی یې هم لیکلي دي، او یو شمیر یې له نورو ژبو څخه ژباړلي دي.

دسیلاب صیب شعري مجموعه وروسته له ده له مړینې څخه په کابل کې د لیکوالو انجمن له خوا چاپ شوه، او نورې شعري مجموعې یې په قلمي توګه د ده د فرهنګي او ادبي ملګرواویارانو سره پاتې دي. دا هیله شته دی، چې د ده زوی ښاغلي الله نور سیلاب چې یوتکړه اوبا استعداده ادبي څیره ده وکړای شي د دغو مجموعې په راټولولو د سیلاب صیب نوې شعري ټولګه چاپ او د مینه والو په اختیار کې کیښودل شي. سیلاب صیب یو ریښتینې مسلمان او متدین انسان و، دی د تقوا او پرهیزګارۍ دروند شخصیت و. ده له خدای پاک سره، د وطن سره، انسان سره، انسانیت اوانساني کرامت سره سپیڅلې مینه اومحبت درلود.دی یومیلمه پال اوپه پښتواو پښتونوالي کې کلک اوټینګ انسان و. دی یوځوان شاعر و، شاعري یې

ځوانه وه، احساس يې ځوان و، ده کولای شوې نورهم د پښتو د ادبياتو د ودې لپاره ډير ستر قدمونه اوچت کړي وای. سيلاب صيب يو پاک او سپيڅلي انسان و. ده له خپل هيواد او وطنوالو سره او د هيواد د خپلواکۍ او آزادۍ سره يوه ځانګړې مينه لرله، ده د پردو غلامي نه منله، يوآزاده او خپلواکه ژوند ته معتقد و.همدا وجه وه چې دی په (۱۳۵۷) هجري شمسي کال کې د وخت دحاکمانوله خوا ونيول شواو د دهمزنګ په محبس کې بندي شو، او وروسته د ځينو وحشي قاتلانو له خوا په شهادت ورسيد. دی نه يوازی چې شهيد او ځوانيمرګ شو بلکې د ده شاعري يې هم ځوانيمرګه کړه، اودی له دی دنيا څخه ارمانجن ولاړو، او دهيواد ادبي او فرهنګي ټولنه يې د يوه ځپاند اوتکړه شاعر او له ادبي او فرهنګي نعمتونونه بې برخي کړه د ده مړينه زموږ دوطن د ادبياتو په تاريخ کې يوه لويه اونه جبيره کيدونکي ضايعه وه، چې د ادب او فرهنګ مينه وال به يې هيڅکله هير نه کړي خو زه باور لرم، چې زموږ د پښتوادبياتو په غيز کې به د ده نوم تل پاتي وي اوتاريخ به تل په داسي اتل ميرني وياړي.دی به دتل لپاره په خپلو با ارزښته ليکنوکي ژوندي پاتي وي، اود ادب او فرهنګ علاقمندان به د ده په خوږو او تودو شعرونو اونثرونو خپلې ذوقي تندې ماته وي(خدای پاک ده سيلاب صيب وبخښي ) او د ده خواږه شعرونه او ښکلي تراني ده تل تر تله ژوندی او تاندي لري

په درناوي: انجنير عبدالقادر مسعود

د ارواښاد سيلاب صيب ځو شعرونه مو غوره کړي دي چې د تاسو پام ورته راګرځوم:

**د مينې جام**

څه شو که نوم دې په خندا اخلمه
هره سلګۍ درپسې سا اخلمه

ساقي راواړوه يو جام د مينې
ځو به د ښکلو نوم په غلا اخلمه

د محبت د هر تنيدک په نامه
د شوخو سترګو نه سلا اخلمه



نور به تسل د پاریدلي احساس
د میني هر قدم رسا اخلمه

د ارمانجنو امیدو په خاطر
په هر منزل کي دی رضا اخلمه

( سپلابه ) زړه راته په ډاک وویل
سر ورکومه خو اشنا اخلمه

**د اوښکو امپل**

تکوروم د زړه داغونه مخ راواړوه ته
بل مي ګوګل کي کړه اورونه مخ راواړوه ته

کړه مي لمبه نیمګبنو سترګو کي په غلي نظر
چي وخورم نوي تیندکو نه مخ راواړوه ته

د خزان باد مي لګېدلی دی د زړه په انګړ
چي راستانه شي بهارونه مخ راواړوه ته

د ژوندانه ډیوه مي ستا په امید بله ده لا
چي بیا ونه کړي ارمانونه مخ راواړوه ته

که حوصله مي لوړه نه کړې ته په مسکو شونډو
رانه ډوبیږي امیدونه مخ راواړوه ته

(سپلاب ) د میني په بدل کي رنې اوښکي امپل
درته راوړي سوغاتونه مخ راواړوه ته

**په انتظار یمه زه**

د پښتونخوا د آزادۍ تل اميدوار يمه زه

په انتظار يمه زه

وطن لپاره شا زلمی ويښ پهره دار يمه زه

په انتظار يمه زه

پردی واکدار نه منم ملك کې اغيار نه منم

بل اختيار نه منم

معلوم پښتون يم په دنياکې چې واکدار يمه زه

په انتظار يمه زه

وايمه ځانته پښتون وطن ليلا زه مجنون

مقابلې ته د غليم مدام تيار يمه زه

په انتظار يمه زه

باغ او بوستان زمونږ دا ګلستان زمونږ

پښتونستان زمونږ

سر مې دی جار لـه وطن غواړم بهار د وطن

په انتظار يمه زه

وايي (سېلاب)

په انتظار يمه زه

**ادبي مسابقه**

لکه زه چې پرې شيدا يم بل به نه وي شيدا هسې

لکه زه چې په ژړا يم څوك به نکړي ژړا هسې

د ليلا په غم کې نشته خوشالي او ارامي هيڅ

خو مين چې په ليلا يم بله نشته ليلا هسې

د عشق اور مې تازه کيږي ستا په يادو د ريبار تل

معتکف سر په سودايم اوس مجنون کړم سودا هسې

دا ژوندون ندی عالمه چې په ما باندې تیرېږي
زه بې خوبه بې خندایم نور عالم کړي خندا هسې

د وصال په تمه تمه دژوندون چوکاټ زړېږي
ګرزیدونکی په صحرایم د امید په صحرا هسې

جام د سرو لبو نصیب مې دی که ندی نه پوهیږم
لا کن عشق کې چې رسوایم بل به نه وي رسوا هسې

سینګاري سامان خونه دی دشهاب په خیر لمبې دي
کباب شوی بېنوا یم نشته بل بینوا هسې

مصیر دې عاشقي ده ملنګۍ ته ملنګۍ ته
ستا په در چې زه ګدایم ګدا نشته ګدا هسې

زړه زخمي وینې ترې څاڅي د وصال ملهم پرې کیده
دا مې سوال دی چې ګویا یم پرې مې ندې ګویا هسې

دوطن عاشقي نده زندګي ده زنده ګي ده
زه عاشق په پښتونخوا یم نشته باغ و بیدیا هسې

د ظالم غماز له لاسه ورور عزیز سره بدبین یم
دا علت دی چې پس پایم نشته څوك پس له ما هسې
چې سېلاب ترې پروت بیماردی دامرض هغه مرض دی
خپلواکي ورته دوایم آزادي هم دوا هسې

**څه لټوم؟**

پوله په پوله کور په کورکرځم وحدت لټوم

دمساوات ښکلی قانون او عدالت لټوم

چي دمظلوم خيري ګريوان ته کړي نظر د رحم

په اوسنو زلمو کې داسي شخصيت لټوم

پيغلي زلمي واړه زاړه چي اتفاق شي همه

د شريعت په مقتضی ښه مدنيت لټوم

د مسلمان په حال چي تل کوي ژړا د وروری

دغه شان تل په اخوت کي محبت لټوم

چي غداری جفا کاری تخم له ملکه کړي ورك

داسي رښتيني فدايان دحقيقت لټوم

د خوار يتيم اوښکي چي تل هميش مدام پاکوي

هر مسلمان له دغه خوی داسي خصلت لټوم

چي د بي وزلي بي نوا ژړا چي واوري تل

په يو دانا انسان کي دغه لياقت لټوم

چي د انصاف منګول يې سيوری په خوارانو کړي تل

په دي ملت دا صفت دغه زينت لټوم

چي کينه بغض حسد نه ساتي بخری زړه کي

داسي حاکم داسي قاضي او قضاوت لټوم

کچکول تر څنګ لکه ملنګ ګرځم کوڅه په کوڅه

مزخرفاتو خرافاتو نه نفرت لټوم

**هغه بيدا څه کوم**

چي د نيکي دامونه ږدي هغه اشنا څه کوم

چي حقيقت نه ښکاروي هغه ملا څه کوم

دعدالت او مساوات نه چي بيرون اوسيږي

هغه ژوندون هغه قانون هغه دنيا څه کوم

چي ترحم عاطفه لطف په مسکين نلري

هغسي خپل او هغه سيټ هغه بينا څه کوم

په فقیرانو مسکینانو چې تیری کوي تل
هغه ظالم هغه جابر او بې وفا څه کوم

چې جامعې ته په کې نفع یو بڅرى نه وي
دتملق او چاپلوسى چتې وینا څه کوم

چې په تنګسه او بې وسى کې مې پکار نشي یو
داسې خپلوان له ما بې غم او بې پروا څه کوم

چې د رحمت او فیض باران په کې یو څاڅکى نه وي
دا بې امیده باد و ګرد رعد او بریښنا څه کوم

چې ورځ په ورح مزخرفاتو ترویج ورکوي
داسې سپین ګیرى کلتر او شش کلا څه کوم

چې غلا زنا قمار هیڅ باك نه ګڼي تل یې کوي
که افلاطون وي په حکمت نو دا دانا څه کوم

چې دین مذهب یې مزخرف بلې عامل یې وي دى
د ناروا لیاري ملګرى رهنماه څه کوم

**رفقا، دوستان عزیزتارنمای وطندار ! لطفاً نظرات، پیشنهادات، انتقادات، مقاله ها، نوشته ها، مضامین و مطالب علمی و تحلیلی خود را جهتِ نشر به ادرس پوست الکترونیکی سایت بفرستید**

admin@vatandar.at



**مدیر مسوول : دیپلوم انجنیرعمر محسن زاده**

**صاحب امتیاز : انجنیرنجیب یوسفی**

**کلیه ی حقوق بر اساس قوانین کپی رایت محفوظ و متعلق به «وطندار» می باشد**

بقیه گزیده های مقالات انجنیر عبدالقادر مسعود

http://www.vatandar.at/qadermasod